مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نثار اکامی

۲۰۲۰/۱۱/۲۴

# ما چې دلته سترګې غړولي

## قیامت ګورم



دا د وحشتونو سلسله له ما نه مشره ده
زه له جنګه کشر یم جګړه له ما نه مشره ده

ما چې دلته سترګې غړولي قیامت ګورم
یار د وطن هره کنډواله له ما نه مشره ده

زه لا پیدا نه وم هلته هم هغه په موج کې وه
خلک به څه وايي خو هغه له ما نه مشره ده

خدایه د دنیا له مخه ورک کړې د بارودو بوي
بم له ما نه مشر دی، وسله له ما نه مشره ده

نن مو هم چینې د اوبو ونیسي د وینو څګ
ختم شي خزانه ستا موده له ما نه مشره ده

پریږده چې حق وایم اکامیا مرګ راتلونکی دی
دار له ما نه مشر دی خطره له ما نه مشره ده

نثار اکامی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ